# د میرمن زیتون بانو لنډې کیسې او د کره کتونکو اندونه

(۱۸/۶/۱۹۳۸ تا ۱۴/۹/۲۰۲۱)

## Zaitoon Bano's Short Stories and the Opinions of Critics

(١٨ June ١٩٣٨ – ١٤ September ٢٠٢١)

Dr. Muhammad Ishaq Khawreen*

**ABSTRACT:**

Zaitoon Bano holds a distinguished position as the first recognized female short story writer in the history of Pashto literature, with over a hundred short stories and numerous collections published in both Pashto and Urdu. Her contributions are significant not only in terms of quantity but also quality, making her a central figure in the development of the modern Pashto short story. Bano's works reflect the traditions of Pashtun society, the struggles and dilemmas faced by women, and progressive thought, while also highlighting realism and innovation. Critics widely acknowledge her artistic depth, noting that her stories capture social realities, portray women's voices, and shed light on sensitive issues such as gender-based challenges and suppressed desires subjects rarely explored in Pashto literature before her. Through her collections such as Hindara, Mat Bangri, Khobona, Zwandi Ghamoona, and da Shago Mazal, she presents vivid accounts of women's lived experiences, pain, and resilience. Her works not only document the social and cultural shape of Pashtun life but also provide women with a powerful literary voice. She remains a pioneering figure whose artistic vision combines social realism with progressive ideals, leaving a lasting impact on Pashto and Urdu literature. In this research based article, the opinions of various literary critics are discussed, and the researcher also presents their own perspective on her short stories.

**Keywords:** social realism, progressive thought, feminism, innovation in fiction, gender issues, literary criticism, cultural representation.

د میرمن زیتون بانو تر دې دمه په پښتو او اردو ژبو کښې ګڼې داستاني ټولګې چاپ شوي دي چي د ټولو لنډو کیسو شمېر یې تر سلو رسېږي. همدا وجه

* Associate Professor, Sciences Academy Afghanistan

ده چي دوی د پښتو لنډې کيسې لومړنۍ ښځينه ليکواله ګڼل شوې ده. له دوي څخه وړاندې په پښتنه ټولنه کښې بله داسې ليکواله تېره شوې نۀ ده چي په دومره ګڼ شمېر لنډې کيسې دې يې ليکلي وي.که څۀ هم له دوي څخه وړاندې پښتنې لنډه کيسه ليکوالې موجودې وې خو د کميت او کېفيت دواړو له مخې اوليت د مېرمن بانو په برخه رسېدلی دی.

د مېرمن بانو د پښتو او اردو داستاني ټولګو په برخه کې، هنداره، مات بنګړي، ژوندي غمونه، خوبونه، زما ډايري، نېزه وړی، د شګو مزل، شیشم کا پتا، وقت کے دهلیز پر، زنده دکھ، او برگد کا سایہ، په خاصه توګه د يادولو وړ دي. دلته بايد ووايو چي د مېرمن بانو په پورته راوړل شويو اردو داستاني ټولګو کښې د اردو طبع زادو لنډو کيسو تر څنګ له پښتو څخه اردو ته د دوی ژباړل شوې لنډې کيسې هم شاملې دي چي په بېلا بېلو وختونو کښې د بېلا بېلو ليکوالو له خوا ژباړل شوي دي.

که چېرې مونږ د مېرمن بانو د هرې لنډې کيسې فني، فکري، موضوعاتي او کره کتنيز جاج اخستل غواړو، خبره به پوره اوږده شي په دې وجه دا غوره ګڼو چي په ټوليزه توګه د مېرمن بانو د لنډو کيسو پر مختلفو اړخونو د کره کتونکو هغه اندونه د دې ليکنې برخه وګرځوو، چي په مختلفو وختونو کښې يې د مېرمن بانو د لنډو کيسو په اړه وړاندې کړې دي. څنګه چي وړاندې وويل شول مېرمن بانو په پښتو او اردو دواړو ژبو کښې لنډې کيسې ليکلي دي همدا وجه ده چي د دوي د لنډو کيسو اړوند د پښتو او اردو دواړو ژبو کره کتونکو خپل اندونه وړاندې کړي دي چي دلته يې د خپلې موضوع سره سم په لاندې ډول راوړو:

## د مېرمن زېتون بانو لنډې کيسې او د نقادانو اندونه

مېرمن زېتون بانو د پښتو او اردو ادبياتو په ډېرو برخو کښې خپل خدمات وړاندې کړي دي خو په مجموعي توګه د يوې کيسه ليکوالې په توګه پېژندل شوې ده او په خاصه توګه د پښتو لنډې کيسې په ليکوالو کښې يې خپل ځان يو لوړ او ښکاره مقام ته رسولی دی. په دې کښې شک نشته چي مېرمن زېتون بانو د پښتو لنډې کيسې په تاريخ کښې د پښتونخوا وطن هغه لومړنۍ ښځينه ليکواله ده چي د لومړي ځل لپاره يې د خپل تخيل په زور نۀ يوازې دا چي پرېمانه لنډې کيسې

لیکلي دي بلکې هغه موضوعات یې هم د خپلو لنډو کیسو برخه ګرځولي دي چي له دوی څخه وړاندې یې د اولیت حق د چا په برخه شوی نهٔ و، د دې هر څهٔ په شاه د مېرمن بانو هغه لېوني جذبه لیدل کېږي کومه چي د مېرمن بانو په تخلیقاتو کښې په ځانګړي ډول د پښتني ټولنې د روایاتو او په دې ټولنه کښې ښځو ته د را پېښو کشالو په اړه محسوسېږي چي همدا موضوعات نهٔ یوازې د مېرمن بانو د لنډو کیسو زیاتره برخه تشکیلوي بلکې د هغوی لنډې کیسې یې د ریالیزم او روښان فکرۍ په رڼا لاپسې رڼې کړي دي چي دلته یې د پورته ذکر شویو اړخونو سر بېره د ځینو نورو اړخونو په اړه د کره کتونکو اندونه په لاندې ډول وړاندې کوو.

## د مېرمن بانو د لنډو کیسو کېفیت او کره کتونکي

مېرمن بانو د پښتو ادب لومړنۍ ښځینه لیکواله ده چي د کمیت سره سره یې د کېفیت له مخې هم داسې لنډې کیسې تخلیق کړي دي چي د نړیوال ادب سیالۍ ته یې په ډاډه زړهٔ وړاندې کولای شو.

"اوس که څوک په نړیوالو لنډو کیسو څېړنه کول غواړي نو د پښتو د ځینو لنډو کیسو د څېړلو نه پرته به یې څېړنه نیمګړې وي او په دغو ځینو لنډو کیسو کښې به د زېتون بانو ټولې لنډې کیسې ارو مرو شاملې وي"(۱).

د مېرمن بانو د لنډو کیسو اړوند پورتنۍ دعوه د مېرمن بانو د ټولو لنډو کیسو په نظر کښې نیولو سره په بشپړه توګه منل اسان نهٔ دي ولې په دې کښې شک نهٔ وینو چي د مېرمن بانو زیاتې لنډې کیسې د خپل هنریت او محتوىٰ له مخې غوره لنډې کیسې دي.

"بانو په معیاري لنډه کیسه لیکوالو کښې یو څرګند نوم دی چي د اولسي ژوند انځورونه وړاندې کوي او د لنډې کیسې په فني باریکو هم پوهه ده"(۲).

مېرمن بانو د پښتو ادب په ښځینه لیکوالو کښې په ډېرو حوالو د اولیت حق هم خپل کړی دی چي یو یې په پرله پسې توګه د لنډو کیسو لیکل دي.

"زېتون بانو وړومبنۍ پښتنه پېغله ده چا چي په نثر کښې د پښتو یو شاندار خدمت وکړو. "هنداره" په پښتو ادب کښې یوه قابل قدر اضافه ده"(۳).

"په ښځینه لیکونکو کښې زېتون بانو له ټولو نه باشعوره او باقاعده لیکواله ده. بانو د پښتو لنډې کیسې په مېدان کښې لوی کار کړی دی"(۴).

"په پښتنه ټولنه کښې چي په ښځه څهٔ تېرېږي، بانو په ډېر ښکلي انداز کښې په خپلو لنډو کیسو کښې د هغو وارداتو عکاسي کړې ده او د یوې کامیابې کیسه لیکوالې په توګه یې ځان ته په پښتنو لیکوالو کښې ممتاز مقام حاصل کړی دی"(۵).

## د مېرمن بانو په افسانو کښې ټولنیزه انځورګري او کره کتونکي

د مېرمن بانو د لنډو کیسو له مطالعې څخه څرګندیږي چي دوی په لویه کچه په خپلو لنډو کیسو کښې د خپلې ټولنې انځورګري کړې ده. د دوی د لنډو کیسو پر دې اړخ هم ډېرو کره کتونکو خپل اندونه وړاندې کړي دي چي دلته ترې د ځینو کره کتونکو اندونه په لاندې ډول راوړو:

"د پښتونخوا د ټولنیز ژوند کومه انځور ګري او عکاسي چي مېرمن زېتون بانو کړې ده د داستاني ادب په دنیا کښې بېخي ځانګړې ده"(۶).

"په کومه ټولنه کښې چي دې سترګې وغړولې، کومې ټولنې چي تشخص ور وبخښلو او د کوم ځای د خاورې نه چي د دې د وجود خمبیره اوچته شوه د دې ټولو غوښتنه دا وه چي هغه د دې هر څهٔ انځورګري وکړي. بانو په سهي معنو کښې د پښتونخوا لور ده"(۷).

"د زېتون بانو په لنډو کیسو کښې د پښتونخوا روح په ساه اخیستلو لیدل کیږي"(۸).

"د پښتو لنډې کیسې په وده او پرمختګ کښې مېرمن زېتون بانو پوره برخه اخستې ده. د دې لنډې کیسې د پښتنو ښځو د ژوند پوره پوره ترجماني کوي"(۹).

## د مېرمن بانو په لنډو کیسو کښې روښانفکري او کره کتونکي

مېرمن بانو د پښتو لنډې کیسې یو هغه روښانفکره نوم دی چا چي د لومړي ځل لپاره د ډېرو ستونزو باوجود هغه څهٔ د خپلو لیکنو ښایست وګرځول د کومو د اظهار جرات چي له دې وړاندې په پښتو ادب کښې مېرمنو کړی نهٔ و.

"زېتون بانو د پښتو د ټولو نه وړاندې روښانفکره او پرمختګ پالې شاعره، ادیبه ده د دې نه وړاندې چي په پښتو ادب کښې کومې ښځې شاملې شوي دي هغوی د قدامت پرستۍ نه خپل ځانونه ساتلي نهٔ دي"(۱۰).

"هر کله چې د بانو د لنډو کیسو اردو ژباړې وشوې او کتابونه یې د اردو ژبې لیکوالانو لاسونو ته ورسېدل، په پښتو ادب کښې د د پرمختګ پال خیالاتو د نماینده قلم کار د موجودیت څخه خبر شول"(۱۱).

## د مېرمن بانو په لنډو کیسو کښې ریالیزم او کره کتونکي

د مېرمن بانو لنډې کیسې که یو خوا د پښتنې ټولنې انځور ګري کوي نو بل خوا په کښې د روښانفکرۍ او پرمختګ پالنې سره سره ریالیزم هم لیدل کیږي حقیقت دا دی چې مېرمن بانو په خپلې ټولنې او چاپېریال کښې څۀ هم لیدلي او محسوس کړي دي هغه یې د مختلفو موضوعاتو په شکل کښې په خپلو لنډو کیسو کښې راوړي دي چې د ریالیزم په زړۀ پورې نمونې یې بللای شو. د مېرمن بانو د لنډو کیسو د نورو اړخونو سره سره د مېرمن بانو په لنډو کیسو کښې په موجود ریالیزم هم مختلفو لیکوالو خپل اندونه وړاندې کړي دي.

"زېتون بانو د ټولنې داخل ته د ورکوزېدو او د هغې د وجود د یوې حصې جوړېدلو نه پس د ریالیزم انځورګري کوي"(۱۲).

"زېتون بانو د ټولنې د ژوندیو حقیقتونو کیسه لیکواله ده چې د انساني جذبو او کېفیاتو په څېر د دوی لنډې کیسې هم رنګ په رنګ دي"(۱۳).

د مېرمن بانو په لنډو کیسو کښې د ښځینه ذات ترجماني او کره کتونکي

د مېرمن بانو د لنډو کیسو له مطالعې څخه دا په ښه ډول څرګندیږي چې د مېرمن بانو په زیاتره لنډو کیسو کښې ښځینه ذات د بحث موضوع ګرځېدلی دی چې دا یې یوه شعوري او پر ځای هڅه بللای شو که څۀ هم په پښتو ژبه کښې د ښځینه ذات سره تړلې ډېرې لنډې کیسې تخلیق شوي دي خو مېرمن بانو اولنۍ پښتو لنډه کیسه لیکواله ده چې په خلاص مټ یې ښځینه ستونزې د خپلو کیسو موضوعات ګرځولي دي چې د دې په شاه د دوی هغه ټولنیزه مطالعه او مشاهده لیدل کیږي چې مېرمن بانو د خپلې ټولنې نه وخت په وخت تر لاسه کړې ده.

"د زېتون بانو داستاني ټولګې، هنداره، مات بنګړي، خوبونه او ژوندي غمونه د ښځې ذات د دردونو او المیو حقیقي روداودونه دي"(۱۴).

"دې کیسه لیکوالې چې د ښځینه ذات په کومه توګه انځور ګري کړې ده د هغې نه دا اندازه کېږي چې مېرمن بانو د هر عمر ښځې ښه ژوره مشاهده کړې ده د

هغې جنسي ستونزو سره یې اخلاقي اړخونه هم په ګوته کړي دي، دې په روایتي موضوعاتو کښې نوی والی پېدا کړی دی او چې څهٔ یې محسوس کړي دي هغه یې قلم ته سپارلي دي او پښتو لنډه کیسه یې د نوو تمایلاتو سره بلده کړې ده"(۱۵).

د پښتنې ټولنې جوړښت ته په کتو ویلای شو چې نن هم زیاتره پښتنې په ډاډه زړهٔ د خپلو خیالاتو او جذباتو د اظهار جرات کولای نهٔ شي خو مېرمن بانو نهٔ یوازې دا جرات په ډېر ښایسته انداز کښې کړی دی بلکې داسې داسې موضوعات یې په خپلو لنډو کیسو کښې وړاندې کړي دي چې په موجوده دور کښې یې ډېر کم کیسه لیکوال د اظهار توان په خپل ځان او خپل قلم کښې ویني. په همداسې غېر مساعدو حالاتو کښې د مېرمن بانو په لنډو کیسو کښې د ښځینه ستونزو بیانول هېڅکله یو اسان کار نهٔ دی.

" په دغو برندو حالاتو کښې هم زېتون بانو د خپل جنس د حقونو لپاره په خپلو کیسو کښې اواز پورته کړی دی او د هغوی د ژوند د ستونزو، پېښو او مصیبتونو عکاسي یې په ډېر رښتوني ډول کړې ده"(۱۶).

"زېتون بانو د پښتو لنډې کیسې یوه بنیادي حواله ده. دوی چې په څومره بېباکۍ د ښځو په ستونزو خپل قلم وچلولو په پښتو ادب کښې یې تر دې دمه بل مثال نهٔ لیدل کېږي"(۱۷).

مېرمن بانو که یو خوا د ښځو ستونزې په خپلو لنډو کیسو کښې انځور کړې دي نو بل خوا یې دغه انځور ګري په دومره ښکلي او زړهٔ پورې ډول کړې ده چې یو خوا یې پښتو لنډه کیسه د عروج بام ته رسولې ده او بل خوا یې د ریالیزم حق ادا کړی دی.

"یوه ښځه چې د ښځو په ستونزو او هغې ته د ورپېښو مشکلاتو او کړاوونو په اړه څهٔ محسوسات لري هغه واړه د بانو په کیسو کښې په ساهو او حقیقي رنګ کښې موجود لیدل کېږي"(۱۸).

## د مېرمن بانو په لنډو کیسو کښې جنسیات او کره کتونکي

که وګورو په پښتو لنډه کیسه کښې په جنسیاتو ډېرې کمې کیسې لیکل شوي دي چې د نهٔ لیکلو بنیادي وجه یې د پښتنې ټولنې قدرونه، جوړښت او روایات ګڼلی شو خو ولې د دې هر څهٔ سره سره د ښځینه ذات باوجود مېرمن بانو

جنسي کیسې هم لیکلي دي چې په حقیقت کښې یې د ټولنې له هغو ناپاکو مخونو څخه پردې پورته کړې دي چې تر دې دمه یې جرات ډېرو کمو لیکوالو کړی دی.

"په پښتو کښې جنسي کیسې ډېرې کمې ولیکل شوې چې بنیادي وجه یې سخت ټولنیز قدرونه، حدود او قېدونه دي ولې ډېرو لږو کیسه لیکوالو له دې قدرونو او پابندیو نه د بغاوت جرات وکړ چې په دې کیسه لیکوالو کښې د زېتون بانو نوم له ورایه ښکاري"(۱۹).

د مېرمن بانو په جنسیاتو دلیکل شووو لنډو کیسو څخه یوه هم "چیلمچې" لنډه کیسه ده چې په کښې په ډېره غوره پېرایه کښې په ټولنه کښې د ښځو د زبېښناک انځورګري شوې ده د یادې افسانې په هکله مېرمن ډاکټر انیتا اعظم لیکي:

"د جینکو په موضوع باندې یوه داسې لنډه کیسه په ډېره بېباکه پېرایه کښې د پښتون اولس په وړاندې ایښودل (او بیا د یوې ښځینه لیکوالې له قلمه) یقیناً چې یو لوی انقلابي قدم دی"(۲۰).

## د مېرمن بانو په لنډو کیسو کښې جدت او کره کتونکي

مېرمن بانو نهٔ یوازې دا چې په خپلو کیسو کښې په پښتنه ټولنه کښې ښځو ته د وریېښو ستونزو انځور ګري کړې ده بلکې پښتو کیسه یې د کیسې د نوو غوښتنو په لور هم بېولې ده چې دا هم د مېرمن بانو د زړورتیا ښکارندویي کوي او هم یې په پښتو لنډه کیسه کښې د مېرمن بانو ابتکار او نوی والی ګڼلی شو.

"محترمې زېتون بانو په پښتو لنډه کیسه کښې نوې تجربې وکړې او پښتو کیسه یې له روایتي موضوعاتو څخه را وویستله او په اول ځل یې په خپلو کیسو کښې نوي موضوعات په نوي انداز وړاندې کړل"(۲۱).

"د مېرمن بانو په کیسو کښې یو خوا د هغې دخاورې خوشبو محسوسېږي او بل خوا په کښې هغه ګرمي لیدل کیږي چې د نوي دور د حرارت په ذریعه د پخواني ټولنیز ژوند د وجود له ویلې کېدلو نهٔ پېدا کیږي"(۲۲).

مېرمن بانو که په خپلو کیسو کښې هر رنګ موضوعات راوړي دي خو کردارونه په خپل ټولنیز ژوند کښې لیدلي، محسوس کړي دي او په دې ډول یې د دوی دردونو او ناخوالو ته په خپلو کیسو کښې ځای ورکړی دی.

"د زېتون بانو کیسې په کایناتو د خورو شوو انساني دردونو او تکلیفونو روداد وړاندې کوي چې هغه يې په محدودو معنو کښې نۀ کاروي بلکې د هغوی په اند يو له کړلیچونو ډک علامت ایجابوي"(۲۳).

د دې مقالې د نتیجې په توګه ویلای شو چې د مېرمن بانو لنډې کیسې لکه د دوی د شخصیت ګڼ اړخونه لري چې دلته يې د کیسو ځینې اړخونه او د هغو اړوند د کره کتونکو اندونه راوړل شول چې د دې اندونو په نظر کښې نیولو سره ویلای شو چې مېرمن بانو د پښتو لنډۍ کیسې هغه نوم دی چې نۀ یوازې پښتو لنډه کیسه يې شتمنه کړې ده بلکې د نویو موضوعاتو په راوړلو سره يې پښتو لنډې کیسې ته نوی لوری ورکړی دی. د دوی په کیسو کښې موضوعاتي تنوع نۀ یوازې د دې سترې لیکوالې د قوي مطالعې او مشاهدې ښکارندویي کوي بلکې په پښتني ټولنیز ژوند کښې د ښځې مقام او هغې ته ورپېښې ستونزې هم را په ګوته کوي.

# حوالې

(۱) زېتون بانو، مات بنګړي، (سریزه: ایوب صابر)، یونیوررستي بک ایجنسي، پېښور، چاپ کال نهٔ لري، مخ: ۱۲.

(۲) زېتون بانو، د شګو مزل، (سریزه: پروفېسر محمد نواز طائر) محکمه ثقافت حکومت خېبر پښتونخوا، فروري ۲۰۱۵، مخ: ۴.

(۳) شاه جهان، پښتو ادب کښې د مېرمنو برخه، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورستي، ندیم یونس پرنټرز لاهور، ۱۹۹۳ء، مخ: ۲۴۳.

(۴) اعظم، محمد اعظم، پښتو افسانه تحقیق او تنقید، عظیم پبلشنګ هاوس خېبر بازار پېښور، جولایي ۱۹۷۲ء، مخ: ۱۴۷.

(۵) جهانزېب نیاز، پروفېسر او پروفېسر افضل رضا، د پښتو افسانې، عظیم پبلشنګ هاوس خېبر بازار پېښور، ۱۹۸۹ء، مخ: ۵۵.

(۶) زېتون بانو، ژوندي غمونه، یونیورستي بک ایجنسي خېبر بازار پېښور، دریم چاپ، جولایي ۲۰۰۴ء، مخ: ۷.

(۷) احمد پراچه، زیتون بانو فن اور شخصیت، مکتبه ارژنګ پشاور، پبلک ارټ پریس پشاور، ۱۹۸۴، مخ: ۱۱۳.

(۸) ایضاً، مخ: ۹۸.

(۹) تاج سعید، پشتو ادب کي مختصر تاریخ، مقتدره قومي زبان اسلام اباد، اشاعت دوم ۲۰۰۲ء، مخ: ۱۳۴.

(۱۰) ایوب صابر، جدید پشتو ادب، د اماراتو پشتو ادبي ټولنه متحده عرب امارات، بارسوم ۲۰۱۲ء، مخ: ۲۲۲.

(۱۱) تاج سعید، پشتو ادب کي مختصر تاریخ، مخ: ۱۳۴.

(۱۲) زېتون بانو، ژوندي غمونه، مخ: ۷.

(۱۳) ایضاً، مخ: ۷.

(۱۴) انیتا اعظم، ډاکټر، په پښتو افسانوي ادب کښې د ښځې اولسي مقام او کردار، محکمه ثقافت خېبر پښتونخوا، پېښور، ۲۰۱۰، مخ: ۱۲۵.

(۱۵) اسیر منګل، د پښتو افسانې سل کلن بهیر، دانش خپرندویه ټولنه پېښور، اول چاپ اکتوبر ۲۰۱۳ء، مخ: ۹۸.

(۱۶) انیتا اعظم، ډاکټر، په پښتو افسانوي ادب کښې د ښځې اولسي مقام او کردار، مخ:۱۲۵.

(۱۷) عابد، عبدالله جان، پشتو زبان وادب کی مختصر تاریخ، یونیورسټي پبلشر قیصه خوانی پشاور، ۲۰۱۱ء، مخونه:۳۱۰، ۳۰۹.

(۱۸) انیتا اعظم، ډاکټر، په پښتو افسانوي ادب کښې د ښځې اولسي مقام او کردار، مخ:۱۷۱.

(۱۹) عظمت هما، اردو اور پشتو کے نمایندہ افسانے، پشتو اکیډیمي پشاور یونیورسټي، ستمبر ۲۰۰۵ء، مخ:۹۷.

(۲۰) انیتا اعظم، ډاکټر، په پښتو افسانوي ادب کښې د ښځې اولسي مقام او کردار، مخ:۱۷۱.

(۲۱) حسینه ګل، سید، مشموله سی ماهي ادبیات(خصوصي شماره پاکستاني اهل قلم خواتین)، اکادمی ادبیات اسلام اباد، جنوري تا جون ۲۰۰۷ء، مخ:۳۲۱.

(۲۲) زېتون بانو، ژوندي غمونه، مخ:۷.

(۲۳) احمد پراچه، زیتون بانو فن اور شخصیت، مخ:۹۲.